TRUE BLUE

TOUR SERIES



# لارما دا
# اپریل، 2021

Alta

*Pashto*

# 1
# لا رمادا- له سرجیو
# پګنوکو څخه ښه راغلاست

سهار مو پخیر ، زما نوم سرجیو پګنوکو دی ، د لا رمدا کارپوریشن تولید پروسې مدیر یم .زموږ شرکت د ارجنټاین په مرکز کې د سانټا فی په ولایت کې د ایسپرانزا په ښار کې موقعیت لري.

0:15
له هرڅه دمخه ، زه غواړم چې دې سفر ته د الټا جینټیک همکارانو ته او همدارنګه مالداران چې په مجاز ډول موږ سره د ارجنټاین او نړۍ له بیلابیلو برخو څخه موږ ګوری ښه راغلاست وایم.

0:37
اوس د لا رمادا په اړه نور وضاحت ورکوم. لا رمادا د ګونیلا ګروپ شرکتونو څخه دی ، کوم چې د دوه مهم فعالیتونو تر سره کوی، یو د فلزی اړخ دی چې چیرې چې بویلر ، د ګاز ټانکونه او د تیلو تجهیزات تولیدیږي او بل یې د لا رمدا کارپوریشن سره کرنیز اړخ دی ، لوکټوز لا رمادا ی بیلنسډو لا رمادا .

1:11
د لارمادا پیل په 1970 کې د بنسټ ایښودونکو لټو او ایډګرډو ګونیلا ، پلار ، او زوی سره و چې په ګډه ، دوی په سانتا فو کې ځمکه وپیرله ، 30 کلومیټره (19 مایل) لرې له هغه ځای څخه چې موږ اوس ولاړ یو. نن دا فارم هپاټیا نومیږي. د ځمکې اساس 265 هکتاره دی.

1:40
مخکې دوی بیا ، 30 خوسۍ وپیرلې او د غواګانو په فارم یې پیل وکړ.د وخت په تیریدو سره د شرکت ملکیت یا کرایه شوي ځمکې مقدار کې وده کړې.د 2000 ام کالونو مودو په جریان کې ، شرکت 12 د غواګانو فارمونه او 5 د خوسیو د روزنې واحدونه درلودل چې ټولټال یې 4000 شیدو ورکونکي غواګانې لرلی.پدې وخت کې د دوی اوسط تولید 18.5 لیتره (4.9 ګیلن) و.

2:26
په 2008 کې ، ما پریکړه وکړه چې غواګانې په فارم کې وساتو .د 2008 په پیل کې ، موږ د وچو غواګانو 3 برخې او 1 فری سټال سیستم درلوده ، دا هغه ځای دی چې نن ورځ موږ په فری سټال کې 500 غواوې او د وچو غواګانو برخه کې 800 غواوې لرو.

2:47
په 2012 کې ، موږ وده او پانګوونې ته دوام ورکړ تر هغه چې موږ د غواګانو 4 فارمونو په فری سټال چې د شګو بستر درلود جوړ کړ، اوس مهال د شیدو 3،200 غواګانو سره چې هره ورځ په اوسط ډول 38 لیتره (10 ګیلن) تولیدوي لرو.

3:12
شرکت تل د غواګانو په ارامتیا او هوساینه کې پانګه اچونه کړی، د غوا په راحته کولو کې د غوره تولید ، ښه مثل تولید پایلې او هر هغه اړخ چې زموږ وده جاري ساتي ترلاسه کولی شو.

## لا رمادا- له سرجیو
## پکنوکو څخه ښه راغلاست

3:35

فارم د چاپیریال ساتنه هم په پام کې نیسي.موږ د فضله موادو مدیریتی سیستم لرو چې فضله مواد او شګه سره جلا کوی دا کار موږ ته اجازه راکړی د کیوبیکل لپاره د اړتیا وړ شګه راوباسئ .د شګو په راویستنی کې کارول شوي اوبه هم بیا ځلی کارول کیږي.موږ د 85-87 شګې چې مو پیریدلی وی بیرته ترلاسه کوو.کاریدلی اوبه د اوبو لګونې لپاره کارولی شو.د سری د سیستم څخه تول ضایعات به په هغه ځای کې پلي شي چیرې چې مخکې خاوره ازموینه شوې وی ترڅو د محصولاتو او واښو دواړه محصولات او واښه وده وکړي.

4:35

په 2017 کې ، د CIALE Alta چې زموږ لپاره خورا مهم ټیکنالوژي ده وپېروده. د غاړې ټاګونه د غوا د مړینې کچه خورا ښه او ټیټه کړي او همدارنګه د مثل تولید (بیازیزون) ، د کچې درجې ته وده ورکوي چې موږ خورا مطمین کوو.

5:04

له هغه وخته چې دا شرکت رامینځته شوی ، موږ تل وده ، نوښت او پرمختګ هدف کړی نو هغه څه چې نن ورځ موږ ګورو ، د هغه څه پایلې دی چې موږ له ډیرې مودې راهیسې تر سره کړې او دادی د هغه محصول ترلاسه کوو او ډیر ښه ، موږ نن ورځ ډیر خوښ یو چې د وخت مطابق مخکی ځو.

5:28

زه امید لرم چې تاسو به زموږ د کور څخه د لیدنې څخه خوند واخلئ! ډیره مننه!

# 2
# لا رمادا - د غواګانو تغذیه

زما نوم موریسیو بینزاقون دی ، د لاتینی امریکا لپاره د حیواني تغذيې ماهر او مشاور يم ، زه د 2012 راهیسې د لا رمادا ټیم غړي په توګه کار کاوم. زما دنده د لا رمادا ټیم سره په ګډه د تغذیه مشورې ، د خوراکې مدیریت ، او عمومي مشوره ده.

0:25
د لا رمادا رمې عمومي جوړښت ، د مختلف جیرو شتون لری چې د بلاربو او وچو غواګانو ، د تازه لنګو شویو غواګانو ، لوړ تولید کونکی ډلې ، او لومړی ځل د شیدو ورکولو لوړ تولید کونکي ډلې ، د تازه لنګو شویو غواګانو سره خوا کې هغه غواګانې چې د بقا په منظور ساتل کیږی مشتمل دی. غواوې او د دوی خواړه د دوې د ډلو پراساس تنظیم شوي ، ترڅو د دوی اړتیاوې وپوښی. په فبروري کې غواګانو په اوسط ډول 41 لیټره شیدی تولید کړی.

0:57
د مدیریت شرایطو کې ، غواګانې په اونۍ کې وچیږی. د DairyComp په مرسته د ټولو ډلو د اونۍ د فعالیت بشپړ لیستونه شتون لري. دا غواګانې د وچو غواګانو ډلې ته لیږدول کیږی. موږ د غواګانو لیست لرو چې باید د وچو غواګانو له ډلې څخه نږدې زیږون ډلې ته لاړ شي.دغه غواګانې د زیږون څخه دمخه 21 ورځو لپاره نږدې په ځانګړی خونه کی پاتې کیږي او دوی د زیږون دمخه غواګانو لپاره ځانګړي رژیم ترلاسه کوي.له زیږون وروسته غواګانې د تازه لنګو شویو غواګانو ډلې ته لیږدول کیږي، چیرې چې له دوی ورګه ورڅخه تر لاسه کیږی.

1:37
له هغه وخته چې موږ د ALTA COW WATCH سیستم پلي کړی ، زموږ د څارویو شخوند او خوراک رمز پراساس ده. مخکې ، دا د غواو د شیدو د ورځو پراساس ترسره کیده مګر نن ورځ دا ارقامو او معلوماتو پورې اړه لري چې ایا غوا د ډیر "تیز" خوراکی رژیم لپاره چمتو ده ، د چاڼولو خبرې کول او د لوړ تولید لپاره خواړه لپاره چمتو ده؟.

2:01
دې ټیکنالوژي موږ ته اجازه راکړې چې ژر غواګانې له تازه لنګو شویو ډلې څخه واړوو که چیرې د دوی د لیږد موده (Trasnation) په ښه توګه پرمخ لاړ شي او دوی ته اجازه ورکړئ چې لوړ شیدو ته ورسي. اوس مهال پدې فارم کې غواګانې د لنګون په 60 ورځ 51 لیټره اعظمی شیدی تولید وی، چې 43 لیټره په 90 ورځو کې د لومړی ځلی لنګونو شویو خوسیو لپاره دی .

2:27
په عموم توګه که ووایم ، د لوړ شیدو ورکوونکو غواګانو خوراکی رژیم د 45 څخه تر 48 سلنه علوفجات لری او پاتی منځنی ته پې 60 سلنه په خوراکه کی علوفجات ورکول کیږی. د دوی کچه پخپله د واښو کیفیت پورې اړه لري. خوراکی رژیمونه په اوسط ډول ،36 سلنه د جوار سایلج ، 17 سلنه د رشقی بیده یا غنم ، د هغه څه پورې اړه لري چې شتون ولري ، 7 سلنه د پنبه دانه او شاوخوا 4 -5 سلنه غوړی وی

3:06
پاتې نور پې کانسټریت دي چې د لا رما دا فابریکې لخوا تولیدیږی.د خوراکی فابریکه په وروستي کلونو کې د شرکت لپاره ارزښتناکه وه ، په فارم کې پیچلي پروسې ساده کولو ته اجازه ورکوي ، پدې معنی چې فیډونه پیچلي دي ، مګر دوی په سمه توګه په فابریکه کې مخلوط کیږی.دا پخپله د پروسې ساده کولو پای ته رسوي پخپله د اجزاو traceability او اعتماد باندې باور لري په کوم کې چې اجزا کارول کیږي.

# 2
# لا رمادا - د غواګانو تغذیه

3:51
د جوار سایلیج په اړه ، ترټولو معمول دودیز دی ، او پدې پورې اړه لري چې په هغه کال کې تمه کیږي ، موږ د سایلج جوړونې لپاره BMRجوار کارو.په هر حالت کې زموږ هدف دا دی چې د لوړ فایبر هضمیت سره کیفیت لرونکي واښه ترلاسه کړو تر څو د سلیجونو څخه د نشایستي کچې سره انډول وساتو ترڅو د لګښت اغیزمن خواړه ولرو.

4:23 د ورځني تغذیې مدیریت په اړه د تغذیې مدیر په مدیریت کې مهم رول لري.دا د مدیر دنده چې هره جمعه په اونۍ کې یو ځلې د خوراکې د وچو موادو کچه معلومه کړي یا کله چې هغه بدلون وموږې نو هغه به د وچ موادو ازموینه باید وکړي.دا هم د مدیر کار دی چې د تغذیه کولو دمخه سهار او ماښام مهال اخور وګوری، د وچو موادو د خوړلو اندازه وټاکی او اخور له نیږدی وګوری .دا کتنې ، په ماسپښین کې د غواګانو د شمیر سره ، موږ ته اجازه راکوي چې په منظم ډول د TMR (جیره) د اجزاو شتون وساتو.

5:02 معمولا د خوراک وخت ، د کال وخت پورې اړه لري چې موږ په ورځ کې یو یا دوه ځله خواړه ورکړو. موږ اخوری ګورو او موږ په پام کې لرو چې له٪5 ډیر خوراک په اخور پاتې شی اوس مهال ، د وړاندې شوي ورځنې خوراکی او تغذیې په اړه ، موږ د 2.5 څخه تر 5٪ پورې پاتې شونکی خوراک په اخور کې لرو.

5:35
دری کاله دمخه فارم د روبوټیک تغذیه کونکي وپیرود ، کوم چې د پاتې شونکو خوراکی کچه لږه کړه او د غواګانو مخې ته تل خوراکه وړاندی کیږی، له دی کار سره تولید کې زیاتوالی نشته خو اجزاو کې ښه والی راغلی دی. اتوماتیک خوراکه ټیله کونکي هره ورځ له 7 څخه تر 9 پوری خوراک اخوری ته ټیله کوی. دغه ماشین د 40 څخه تر 80 سانتي مترو پورې اندازه باندې خوارک اخوری ته راوړي او ټیل وهی ، دا د سیسټم ترتیباتو پورې هم اړه لري.

6:05
د خوسیو په اړه ، د پالنې دوه پړاونه شتون لري.د خوسیو واحد مخکې نسلګیری ، نسلګیری ، او بلاربو ډلو ویشل شوی کیږی. خوراکی رژیم کې د ډلې پورې اړوند د 45-80٪ واښه (علوفه) وي.

6:31
موږ تمه لرو چې په اوسط ډول هره ورځ 960 ګرامه وزن لاسته راوړو چې دا هدف دی نو موږ کولی شو چې د 13 میاشتو عمر کې یې نسلګیر وکړو. موږ هدف لرو چې لومړی ځل لنګون د عمر 24 میاشت کې یی له ډیرو مرستو او بې له مړینو ترسره شی.

6:57 په لا رمادا کې زموږ هدف دا دی چې د مدیریت ټولو ساحی ، کارونو ، او تغذیې لپاره سیستماتیک چلند ولرو.د هغې شیې څخه چې خوراک فابریکه پریږدي ، موږ یې د څار ورتیا لرو.د هغه وخت څخه چې موږ سایلج ټوټه ټوټه او بیا یې بسته کړو ، موږ هڅه کوو چې غوره کیفیت یې وساتو نو دا به وروسته په تولید او روغتیا دواړو کې د تولیدي موثریت باندی اغیزه ولری.

## 3
# لارمادا - د زیږون مدیریت

ټولو ته سلامونه ، زه نوم مورو مولینا دی، ددې شرکت د لبنیاتو د دوه فارمونو وترنر داکټر او د بیا زیږون مدیریت لپاره هم مسؤل یم.

0:05
موږ د لامبی غواګانو فارم د بلاربولو په تاسیساتو ک یو چیرې چې د زیږون ټولې لارې چارې ترسره کیږي ، لکه مصنوعی القاح ، انجیکشنونه ، د بلاربوالی ټسټ.

0:23
زموږ د تکثیر مدیریت کې په ټاکلی وخت کې د مصنوعی القاح تطبیق دی. په دی پرټوکول کې د 7 ورځو پروجیسټرون او ایسټراډیول د فولیکل د څپو په مرسته د تخمې د ازادیو همغږي کوو ، اوس موږ د ALTA COW WATCH غاړې ټاګونو په مرستې غویمه غواګانی پیژنو، ددی سیستم مرسته موږ د غویمه توب په بهترین وخت کې القاح کوو.

0:53 موږ پریکړه کړی وه چې د ټاکل شوي وخت د القاح کولو پروتوکول پلي کول پیل کړو ، له دی سره موږ نتیجه بهتره شوه اوس دادی زموږ غواګاني د لنګون په 66 ورځ مصـــنوع القاح تطبیق کول پیل کیږی.موږ دا کار د لنګون په 50 ورځو کې ترسره کوو ،مګر موږ د دې پروتوکول سره غوره پایلې لرو او له همدې امله زموږ د غواګانو د بلاربیدو کچه 40 سلنه ده.

1:23
موږ هره دوشنبه د بلاربوالی د ټسټ لپاره غواګانی معاینه کوو او زموږ د وترنری کارونو مهالویش چک لیست د DariyComp سافټویر لخوا جوړیږی .موږ به ډیر ژر Pocket Cow-Card (جیب کاو کارت) سافټویر په ټابلیت موبایل وکار و .تر دې دمه موږ چاپ شوي لیستونه کاروو. مګر د دې پروګرام سره ، موږ د څارنې لپاره د غواګانو په موندلو کې خورا اغیزمن کیږو.

1:47
له هغه وخته چې موږ د ALTA COW WATCHسیستم کارولو پیل کړی ، زموږ د غواګانو د بلاربښت کچه 20 سلنه څخه پورته شوی ده. نن ورځ موږ د بلاربښت کچه 22 سلنه کې یو ، او د القاح کولو کچه مو 62 سلنو ته رسیدلی ده حتی د دې سیستم سره ، په دوبي کې زموږ د غواګانو د بلاربښت کچه له 15 څخه پورته نه ځی، پدې معنی چې د تودوخې فشار او د دوبي وخت به واقعا یوه ننګونه ده. موږ هڅه کوو چې دا شاخصونه ښه کړو.

2:23
موږ پوهیږو چې د کال په هغو 4 یا 5 میاشتو کې کله چې THI (د تودوخې شاخص) په ورځ کې د ډیرو ساعتو لپاره له 75 څخه ډیر وي ، نو د تولید ساتلو یا بیا زیږوني موثریت لپاره دا خورا لوی ننګونه ده. که څه هم موږ د تولید د ساتلو توان لرو ، د بیازیږوني موثریت پدې میاشتو کې راټیټیږي ځکه چې موږ په دوبي کې د ډیر تودوخې لرو او دا غواګانو باندې فشار راوړي .موږ د کانپسیټ پلس غوبانو القاح کاروو چې موږ پوهیږو چې د بلاربولو لپاره غوره دي.

3:00
سلامونه ، زما نوم سباستیان ویرش دی. د ارجنټاین لپاره د التا جینیټیک ټیم برخه یم .موږ د لارمادا سره کار کوو ، تر څو غویمه غواګانې په اسانۍ ومونډې او دا ستونزه یې حل شی. دا کار موږ ډیریکمپ (DairyComp) کې د معلوماتو تحلیل کولو په واسطه تر سره کوو چې په دوامداره توګه ددی کار پایلې ګورو . موږ د سمدلاسه ستونزه مونده او ځای پر ځای یې حل کوو یعنې پر وخت ستونزه حل کوو. موږ خپل ورځنی کارونه هم ګورو.

3:34
موږ په فارم کې د ALTA CO WATCH په کارولو سره په پایلو کې بشپړ بدلون وموندە .نن موږ پوهیږو چې ایا غواګانې غویمه دی او که نه .موږ کولی شو دا په کمپیوټر کې په اسانۍ سره چیک کړو چې پایلې هغه څه دي چې موږ یې باید د غواګانو د سائیکلیت (دوران) پراساس ترلاسه کړو.

3:58
لکه څنګه چې مورو تاسو ته دمخه ویلي ، زموږ لوی ننګونه دا وه چې پوه شو چې زموږ غواګانې په سایکل کې او که نه؟ په دې باندی دقیقه پوهیدل بنسټیز دي دا ځکه چې موږ دیته اړ یو چې چې د بیا زیږون مدیریتی سیسټم دلته ډیزاین کړو.

4:10
موږ په ټاکل شـــوي وخت القاح باندې ډیر ټینګار کوو، دا ټینګار د غواګانو د هغه فارمونو په پرتله چې پکې د Alta Cow Watch سیستم لری دلته ډیر دی ځکه چې دلته د تودوخې د دباو او فشار له امله د غواګانو سایکل اغیزمن کیږی. څرنګه چې د اوړی د تودوخې فشار دي د غواګانو په سایکل او بیازیږونی موثریت باندی اغیزه کوي.

4:27
اوس مهال ، موږ ددی وړتیا لرو چې له هر ځار څخه مخکی یو ځلی مخکینۍکتنه وکړو چې ایا غوا مو غویمه توب نښې ښکاره کړې او که نه؟ د حقایقو پیژندلو یوازی کارکونکی ملامت نه دی بلکې تاسی د سمو پریکړو لپاره دقیقو معلوماتو ته اړتیا لری.

4:50 پدې فارم کې ، د بلاربښت کچه په دوامداره توګه 20 سلنه څخه لوړه ده چې په کلنی توګه 22سلنه ده او حقیقت دا دی چې هرڅوک مطمئن دی ، په ځانګړي توګه کارمندان ، د پایلو سره چې موږ یې د دې ټیکنالوژۍ سره ترلاسه کوو.

5:06 نو امید لرم چې تاسو به په لامبي کمپبل کې د مجازی سفر څخه خوند واخلئ چې لیدلو لپاره ښکلی فارم دی او راځی اومید ولرو چې په راتلونکي کې دوی به په سایټ کې وي!

# 4
# لارم ادا(La Ramada) - د بلاربـ ت د لڅ الی دورې اداره

السلام علیکم ، زما نوم ریکارډو سیفري دی او د د لبنیاتو فارم مدیر یم.زه به تاسو ته ووایم چې موږ د تازه لنګو شویو غواګانو او د بلاربښت په اخرني پړاو غواګانو سره څنګه کار کوو.

0:19
موږ د زیږون څخه 20 ورځې وړاندی وچې غواګانې وړاندې دلته راوړو .موږ دوی هره ورځ څارو او دا څارنه د لنګون تر ورځې پورې جریان لری.

0:29
دلته 3 کسان دي چې په نوبتی مهالویش باندې کار کوي .موږ د غاړې ټاګونو مرسته د شپې یو ځلی ګزمه کوو.

0:43
موږ د زیږون تر ورځې پورې انتظار کوو.یو ځل چې غوا لنګه شی موږ ورڅخه ورګه ترلاسه کوو .کله چې ورګه خوسکي ته ورکړل او تغذیه شي ، تازه لنګه غوا د شیدو ورکونکي ډلې ته بوتلل کیږی. تازه لنګو شویو غواګانو ته په ځانګړی خونو کې خوراک وړاندی کیږي.

1:09
تازه لنګې شوی غواګانې په اونۍ کې دوه ځله څارل کیږي.موږ د کیټوزس ناورغۍ د اندازه کولو لپاره د غوا میتازی څخه کار اخلو، غوا د میټریټیس لپاره معاینه کوو ، او ډاډ ترلاسه کوو چې غوا په سمه توګه شخوند وهی .غواګانې د لنګون تر 24 ورځې پوری د تازه لنګونو شویو غواګانو په ځانګړی ځای کې تر هغه پاتې کیږي چې موږ ډاډه شو چې دوی روغې دی چې بیا موږ هغوی اړوندو ځانګو او ډلو ته وسپارو.

1:44
کله چې موږ یوه تازه غوا وڅارو او بیا موږ ډاډه شو چې هغه روغه او سلامته ده ، نو بیا د هغې د غاړې ټګ ګورو چې هغه ښه او سم شخوند کوي بیا موږ هغه د لوړ تولید لرونکو غواګانو ځای ته خوشې کوو.

2:10
د 2018 راهیسې د ALTA COW WATCH د غاړې ټاګونه د لارمادا فارم کې کلیدي رول لوبوي.که څه هم ټولې غواوې د غاړې ټاګونه نلري.کله چې غوا وچه شی نو د غاړې ټاګونه ترې لرې کیږی او بیا بیرته د لنګون د پړاو نیږدی کیدو په مهال غوا ته اچول کیږی ترڅو موږ وکولی شو چې د بلاربښت اخرینې پړاو او د تازه لنګون وضعیت او مرحلې په بشپړه توګه وڅیړو.

2:32
پدې کې شک نشته چې د غوا تازه لنګون مرحله د شیدو غواګانو لپاره یوه مهمه شیبه ده ، چیرې چې روغتیا ، تولید ، او بیا تولید په یو ځل یوځای کې سره رامنځته کیږي. غوا د وچیدو څخه تر لنګون پورې له یو تغیر سره مخ کیږی، چې د لنګون څخه وروسته غوا په څو ورځو کې د شیدو لوی مقدار تولید وي .په دی سربیره ، موږ باید هغه غوا بیا ځلی بلاربه کړو.

2:53
نو د لنګون د اخرې پړاو څخه تر دی چې غوا لنګه شی ،څارل او بیا په هغه ځای کې چې تازه لنګې شوی غواګانی ساتل کیږی یوه اړینه دوره ده. موږ باید څارنه وکړو لکه څنګه یې چې دلته په لارمادا فارم یې کوو ، دا کار ځکه کوو چې تر څو اوسمهال او په راتلونکی کې زموږ ټولې غواګانې بریالیتوب ترلاسه کړي.

# لارمادا- زېږون

سلام ، زما نوم جون ويري دی ، زه په لارمادا ايسا کې کار کوم. لارمادا څلور توليدي واحدونه لري ، هر واحد يې خپل د زېږون او خوسکي ساتنې ځانګړې واحدونه لري.

0:13

زيږون ته نژدې غواګانې د زيږون خونه کی ميشت کيږی.په اونۍ کې يوځل موږ د DariyComp سافټوير په مرسته د هغه غواګانو ليست ترلاسه کوو چې زيږون ته يې د 21 څخه تر 28 ورځو پورې پاتې وي. موږ د بلاربوالی ټيسټ لپاره مقعدي معاينه کوو او موږ د نوي زيږون اسهال او د تنفسي پيچلې ناروغۍ پروړاندې د واکسينونو دوهم ډوز تطبيق کوو.

0:38

يو ځل چې دا ترسره شي ، دوی د زيږون په خونه کې پاتې کيږي .دلته ، دوی په ورځ کې يو ځل TMR خوراک ورکول کيږي ، چې په 24 ساعتونو کې د خوړو او اوبو شتون يو ځلی څارل کيږی.

0:50 د زېږنتون ساحه او د خوسکي پالنې ساحه کې درې عملياتي چاروائ شتون لري.د دوی کاري ورځ د سهار په 6 بجو پيل کوي.يو له چلوونکو څخه د خوسکو لپاره د شيدو پاستويرزه کوي او نور يې د زېږنتون ساحې ته ځي ترڅو ټول هغه زيږونونه معاينه کړي چې د شپې پرمهال پيښيږي بيا د ورځې په جريان کې زيږدل د طبيعي امکان تر کچې څارل کيږي.مرستې يوازې په هغه وخت کې ورکول کيږي چې تحويلي په طبيعي ډول پرمختګ ونه کړي. دوی دا فعاليتونه ترسره کوي پداسې حال کې چې د خوسکيو پالنې واحد کې دندې هم ترسره کوي ، د چيک کولو وقفه د دوو ساعتونو ترمينځ وی ترڅو وګوري چې دوی څنګه پرمختګ کوي.

1:35

يوځل چې غوا لنګه شی، د دې غوا سره پروتوکول (تګلاره) تعقيب کيږي ، د مقعد معاينه کول ترڅو دا وګوري چې د زيږون پرمهال هيڅ دوه جوړه (دويم بچی) يا کومه ستونزه شتون نلري. غولانزه د ماستايټس لپاره معاينه کيږي او دوی لومړي شيدی د ګرځنده ماشين په وسيله تر لاسه کوی تر څو ورګه ترلاسه شی بيا دوی په غوا په شا باندی د نيته ليکی چې څه وخت د لوش ځای ته بايد لاړه شی، چيرې چې هغه د شيدو ورکونکي غوا په توګه هلته لوشل کيږی.

2:09

ټول ورګه د Brix refractometer سره اندازه کيږي ، د ورګو په کارولو سره بايد د 22٪ BRIX څخه پورته وي.

2:23

د نوي زيږيدلي خوسکي لپاره يو پروتوکول (تګلاره) هم شتون لري چيرې چې دا د نارينه يا ښځينه په توګه پيژندل شوی، د ژوندی پاتې کيدنې څارنه کيږي ، نوم ضد عفوني شي ، او ورګه ورکول کيږي.موږ ورګه خوسکيو ته د زيږون په مهال سمدلاسه 4 ليتره (1 ګيلن) - 2 ليتره (0.5 ګيلن) د امکان تر حده زيږون ته نږدې ، او دوه ليتره ورګه يو څو ساعته وروسته ورکول کيږي.

2:50

په هغه حالت کې چې موږ کافي مقدار ورګه نلرو ، موږ وچ کلسټروم 100 توليد کاروو .داسې قضيې هم شتون لري کله چې موږ داسی ورګه نه لرو چې د 22٪ BRIXڅخه ډير وي. پدې حالت کې موږ ورګو د ښه کولو لپاره د وچو ورګه (کلسټروم 100) هم کاروو.

3:06

يوځل چې دا پروتوکول (تګلاره) ترسره شي ، خوسی د خوسکي پالنې واحد ته ننوځي چيرې چې هغه د شيدو مرحله پيل کوي. خوسکي په کوچنې ، انفرادي خونو کې د غنمو بوسو بسترونو لری او دوی د شيدو رژيم پيل کوي.دوی د لومړيو 15 ورځو په موده کې دوه ليتره شيده دوه ورځنۍ تغذيه کې ترلاسه کوي بيا د 15 ورځې څخه تر 45 پورې 4 ليتره شيدی دوه ځلی 2 تغذيه

# لارمادا- زیږون

(1 ګیلن) کیږی .په 45 ورځ  د شیدو تغذیه بیرته  2 لیترو ته ښکته کیږی دا کار تر هغې ادامه لری تر کومې چې موږ خوسکی له شیدو بیل وو.وروستي ورځې چې دوی نور شیدی نه ترلاسه کوي، موږ  خوسکی د عمر په 60 شاوخوا ورځو کې له شیدو بیل وو.

3:54
همداځیر هره اونۍ موږ د خوسیکانو ډلې اخلو چې د یو څخه تر څلور ورځو پورې عمر لري، موږ د BRIX ریفریکومیټر سره د وینې نمونه هم اخلو.غیر فعال معافیتی لیږد  (Passive Immune Transfer)اندازه کیږي؛ موږ د 8 درجې BRIX د ښه غیر فعال معافیتی لیږد په توګه په پام کې نیسو ، او هره میاشت زموږ هدف دا دی چې نمونه شوي د ټولو خوسکیو 85 سلنه ښه غیر فعال معافیتی لیږد ولري.

4:21
د پالنې په واحدونو کې نارینه او ښځینه خوسکیو سره ورته چلند کیږی او په ورته وخت کې دوی په ډله ایز ځانګړی ساحه کې ځای په ځای کیږي چیری موږ د ښه کیفیت متوازن خوراکی رژیم دوی ته ورکوو. همدارنګه د شیدو څښلو څخه دوو ساعتونو څخه وورسته ، وریا اوبه ټولو خوسیکانو ته وراندی کیږي.

4:38
یوځل چې د شیدو څښلو مرحله پای ته ورسیږي ، د پیژندلو لپاره پروتوکول (تکلاره) تعقیب وو ، عکسونه اخیستل او وزن اندازه کیږی.د شیدو  رودلو دوران په مهال ، د واکسین کولو پلان هم تل د DairyComp سافټویر په واسطه ترسره کیږ. ټول خوسکي د واکسین کولو پلان تعقیبوي او د پالنې مرحله کې یو بوسټر ډوز هم ترلاسه کوي.

5:13
کله چې خوسکي له شیدو بیل شی، په لومړی اونۍ کې دوی ته متوازن خوراک او د اوبو څښلو ازاد انتخاب ورکول کیږي بیا دوی خپل خوراک د متوازنې تغذیې سره جاري ساتي او د دریمې میاشتې وروسته دوی د TMR (ځانګړی جیره) ترلاسه کولو پیل کوي .په پنځه میاشتني عمر کې ، دوی خوسیو پالنې مرکز ته ځي چېری چې د لا رمادا د غواګانو د څلورو واحدونو دی. دوی خپل پروسې ته ادامه ورکوي تر هغه چې دوی په اومه میاشتو بلاربې شي.

5:53
 یوه په زړه پورې موضوع چې موږ یې په لا رمادا کې تعریف کولی شو  هغه داده چې څنګه موږ یو استعمالیدونکی ټکنالوژی او پروسس ټکنالوژۍ تر منځ یو منظم سمباښت لرو. موږ په ښه توګه وینو چې هر څه د غاړې ټاګونو سره دي، د سافټویر په کارولو سره، د ټیکنالوژۍ کارولو هڅه کوو ترڅو ټول روغتیا او د زیږون اړخونه ښه کړواو دا خورا په زړه پورې هم ده چې دوی د نوي زیږیدلي خوسکي مدیریت کې د کلسټروم 100 تولید (وچ ورګه) سره ترسره  کیږی ، چیرې چې دا په بچیو کې د ښه غیر فعال معافیتی لیږد ترلاسه کولو لپاره بنسټیز وسیله ده . وسیله په دی معنی چې تاسو د غوا ورګه نلرئ یا غوا د ښه کیفیت ورګه نه ورکوي یا ځکه چې په ځینو مواردو کې ، هغې هیڅ ورګه ندی ورکړی.

6:51
د کلسټروم 100 (وچ ورګه) د ځانګړي غواګانو ورګو د ضمیمه په توګه کارول په خوسکو کې د غیر فعال معافیتی لیږد کې مهم وسیله ګرځیدلی او په نورو لارو کې هم د ورګو بډایا کول یا  هغه د ورګو کارول چې کیفیت یې له 25- یا 26 B BRIX -څخه نه کم وي.د وچو ورګو استعمال بهترین کار دی ځکه د غیر فعال معافیتی لیږد اندازه کولو خبره مهم ده ، کومه چې  جون موږ ته مخکې وویل ، په میاشت کې غیر فعال معافیت لیږد باید د 85 څخه 90٪ خوسکو څخه پورته وی.

# لا رمادا - د سوداګرۍ تنضیم

زما نوم کارلوس ګونیلا دی.زه اوس مهال د لا رمادا ایسا مشر یم .دا شرکت  زما پلار یې په 1969 کې پیل کړی.

0:11
زموږ اصلي فعالیت فلزی دی ، مګر په  1969 کې موږ پانګې  سره جلا کړی. موږ د ځمکې پیرلو پیل وکړ. د دې ساحو یو هدف دا دي چې ددی ساحو حاصل د شیدو تولید ته واړوي.

0:31
په 2000 م کال کې په ارجنټاین کې اقتصادي بحران وروسته ، موږ د لا رمادا بدلولو پریکړه وکړه او په 2004 کې ، موږ هوډمن وو چې خپلې شیدو صنعتي کړو.په 2005 کې ، موږ د پیرو هیواد څخه یوې ډلې سره اړیکه ټینګه کړه ، کوم چې د پیرو  طلایې ډله ده.موږ تړون وکړ چې په ارجنټاین کې یو صنعت پیل کړو ترڅو د کورلاسا نوم په کارولو سره پوډر شیدو جوړې کړو.

0:59
په 2010 کې موږ پریکړه وکړه چې خپله لاره پرمخ یوسو.موږ خپله ملګرتیا په کورلاسا کې د خپل فابریکې پروژې پیل کولو لپاره وپلورله او موږ د لایکټوس لا رمادا نوم ورکړ.په همدی کال کې  موږ په لا رمادا کې د تولید ماډل تعدیل کړ ، هڅه مو وکړه چې د غواګانې د پالنی سیستم د څړ ځایونو څړولو څخه فری سټال سیستم ته هر څه تبدیل کړو. د ځکمو د هکتار په شمیر کې کموالی لاسته راوړل شو او په یوه هکتار کې د ډیرو غواګانو کارول زیات شو ، نن ورځ د 3،200  غواګانی په منځنۍ کچه په ورځ کې 38 .38 لیتره ته رسي.

1:44
په 4 فارمونو کې چې نن ورځ موږ یې لرو، مونږ یوه فابریکه هم لرو چې د لاکټوس لا رمادا په نوم یادیږي چې هره ورځ 520 زره لیټرو شیدو د پروسس وړتیا لری چې  په پوډر شیدو یې واړوی.تیر کال موږ په ورځ کې په اوسط ډول 420 زره لیتره (110،952 ګیلن) پروسس کړی ، چې له هغې څخه د لا رمادا لبنیات هره ورځ 120 زره لیټره (31،700 ګیلن) شیدې وي پاتې برخه په سیمه کې د تولید کونکو څخه پیرودل کیږي.

2:11
موږ پریکړه کړې وه چې خپله خوراکه تولید کړو ، نو په 2015 کې  موږ د دانې فابریکه جوړه کړه چې نن ورځ په میاشت کې د 5000 ټنو متمرکز محصول میاشتنې ظرفیت ته رسیدو لپاره د پراختیا په حال کې ده .موږ په میاشت کې 3500 ټنه  تولید بازار موندلو لپاره اداره کوو  چیرته چې موږ خپل تولید کونکې ته وړاندیز کوو چې موږ ته د تبادلې لپاره خپل محصول راوړې ، یا دوی کولی شي پر موږ یې وپلوري.

2:36
موږ سویا بین او جوار پلورو  چې د همدی لاری زموږ محصولات بهر ته لاره پیدا او بازار ته  رسیږی. دا پخوانی کارونه دی چې مو په  1969 کې کول، په دی سیستم کې موږ څړ ځایونو څخه کار اخیست. په 2020 کې موږ د لومړني تولید ودې صنعتي کیدو ته ورسیدو ، پرمختګ او حتی په محلي بازار کې هم اهمیت پیدا کړ او همدارنګه په نړیوال بازار کې  زموږ د فابریکې څخه د وچو شیدو  لوړه کفیته محصول ریګینا او لاکټوس لارمادا ځانګړی ځای وموند.

3:17
نن ورځ زموږ کرهنیزه صنعتي ډلې د 80 او 90 ملیون ډالرو تر مینځ پانګونه ده.کله چې موږ دا پروسه پیل کړه د لا رمادا ناخالص عاید په میاشت کې 2 ملیون ډالرو ته نه رسېده. دا هغه څه دي چې موږ یې تل ګورو.

TRUE BLUE

# 6
# لا رمادا - د سوداګرۍ تنظیم

3:34

زما په شخصي ژوند کې ، ما د صنعتي انجینرۍ زده کړې وکړې. زه د سوداګرۍ دې کرښې ته ډېره نیږدې یم. زه غواړم د کورنۍ د ډلې مشر شم.صنعتي کول هغه څه ته ارزښت اضافه کوي چې موږ یې تولید کوو ، او دا زموږ کورنۍ هدف دی.

3:55

موږ د ساحې خدماتو سوداګریزه لیکه پرانستې ده ، د ځمکې اړولو، حاصل راټولو، کښت کولو او زموږ د بزګرانو لپاره د پروسس لپاره مو هم دا شیان وړاندې کړي لکه څنګه چې موږ د کرهنیزو محصولاتو سوداګریزې لیکې لپاره هدف لرو ترڅو د تولید ټول محصولات وپلورو ، په شمول د هرڅه چې د کښت لپاره ټیکنالوژي کښوړه ده او همدا رنګه د غواګانو درملنې لپاره ټول درمل

4:29

زموږ شرکت په پیل کې 45000 لیټره (11،888 ګیلن) شید تولیدولې ، 145 کارکوونکې مو درلودل او د څړځایونو سیسټم مو 8000 هیکتاره ځمکه لرله.موږ دا بدل کړې نن ورځ موږ 2500 هیکټاره د شیدو تولید لپاره کار وو او پاتې برخه یې د کرنیزو فعالیتونو لپاره ده .موږ د تولید په پروسه کې له 100 څخه ډیر خلک نه کاروو.

4:52

په څلورو ماډلونو کې ، په ټولیز ډول موږ د 3200 شیدو غواوې لرو ، په اوسط ډول په فریسټال سیسټم کې 38 لیټره (10 ګیلن) شیدی تولیدیږی.موږ خپل ټرانسپورټ شرکت پرمخ وړو ، موږ خپلې شیدې خپلې فابریکې ته راوړو چې هره ورځ 500000 لیټره شیدی له مایع څخه پوډری شیدو ته پروسس کوو او بازارموندنه یې کوو.

5:08

موږ خپلو پیرودونکو ته د خپلو لاریو سره ویش اداره ورکوو.موږ د دانې جوړیدنې خپله فابریکه لرو چیرې چې موږ د لا رمادا او زموږ د پیرودونکو لپاره خوراکه برابر وو او اوس موږ غواړو د توکو بازارموندنې ته ورسیږو.

5:32

ښه د دې بیاکتنې وروسته زه غواړم تاسو تنظیم شوې مجازی سفر ته بلنه درکړم - زه به زموږ د چمتو کونکې لخوا نه ووایم ، مګر زموږ ستراتیژیک شریک التا جنټیک ، کوم چې له ډیری کلونو راهیسې د لا رمادا جنټیک سره کار کوي او له دوی څخه مننه ، موږ کولی شو د هغه څه په اړه وغږیږو چې هره غوا څه شی تولیدوي ، نو تاسو به په حقیقت کې وګورئ چې لا رمادا څه شی دی .یا په راتلونکې فرصت کې تاسو کولی شئ دلته لیدنه وکړئ. ټولو تولید کونکو ته لوی سلام او کار ته مو دوام ورکړئ!

TRUE BLUE
TOUR SERIES




# ډان انو
# اپریل، 2021

Alta

*Pashto*

# 1

# ډان انو ته ښه راغلاست - ډیاګو سرویوینی

په اړډیز ، کردوبا ، ارجنټاین کې د ډون انو تاسیس ته ښه راغلاست .زما نوم دیګو سرویګینی دی او زه د دې سوداګرۍ مدیر یم. موږ پدې فارم کې دریم کهول یو چې خدمت کړو

0:13
ډان انو یو کورنۍ شرکت دی چې له انو سرویګني څخه پې سرچینه نیولی ده، څوک چې زما نیکه و.هغه ډیری کالونه دمخه په زراعت او مالدارۍ کې پیل وکړ ، په ساحه کې په بیلابیلو فعالیتونو کې د کب نیولو د غوښېنو غواګانو روزنې ، خوګ روزنه ، او د شیدو غواګانو فارم په شمول تر سره کول اوس مهال زموږ د کورنۍ دریم کهول دا میراث کار پر مخ وړو.

0:39
ډان انو په 1980 کې د شیدو ورکونکو فعالیتونو سره د څو شیدو ورکونکو غواګانو سره پیل کړ.په 90 مو لسیزه کې یې پریکړه وکړه چې د لبنیاتو عملیاتو ته دوام ورکړي او په لومړنی فارم کې 8 د شیدو لوش ځایونه درلودل چې پکې شاوخوا 100 غواګانې شیدې ورکولې.کله چې زموږ د کورنۍ دریم کهول د لبنیاتو کوچنی فارم ونیول ، موږ هغه وخت د 120 - 150 غواګانې شیدو په اتو فارمو کې درلودی.

1:08 د ودې لپاره موږ هیله مند وو چې موږ باید پراختیا ورکړو.موږ د شیدو د لوش خونه په 12 سټالونو کې بدله کړه ، د زیربناوو اندازه او د رمې اندازه او همدارنګه د ساحې فارم ته وقف شوې ساحه مو ډیره کړه. د کرنې پرمختګ د څارویو روزلو لپاره د ځای کارولو سیالۍ کې ډیروالی رامینځته کړ ، کوم چې موږ یې دیته مجبور کړ چې د شرکت په توګه ځینې پریکړې وکړي.

1:27
موږ باید فارم تړلی وی یا به مو د غواګانو لپاره د هستوګنې تړل سیستم پیل کړی وی. پدې شیبو کې ، موږ د خپل راتلونکي لپاره د لبنیاتو دتولید لپاره مختلف سیستمونو تحلیل پیل کړ.

1:46
موږ مختلفو هیوادونو ته سفر وکړ او په ټوله نړۍ کې مو د لبنیاتو ځینې مهم فارمونه ولیدل. د دې پوهې سره ، موږ پریکړه وکړه چې د شګو کیوبیکل سره بند هستوګنځایونه جوړ کړو. موږ هغه څه جوړ کړل چې تاسو زما تر شا ګورئ ، کوم چې د 500 غواګانو ظرفیت لری چې په 2017 کې بشپړ شوی و.د هغه وخت راهیسې چې لومړني غواګانې نوي فارم ته راننوتې ، موږ د شیدو تولید ډیروالی او همدارنګه زموږ د څارویو روغتیا دواړو کې خورا ښې پایلې لیدلې.

2:19
په 2018 کې ، د فارم له ټول ظرفیت څخه کار اخیستل کیده او موږ ودې ورکولو ته اړتیا درلوده.زموږ لومړۍ نظر دا و چې د شیدو لوش خونه چې ګړندي وتل ولری جوړه کړو.په دې وخت کې برازیل ته د سفر وکړې ، موږ لیلي روبوټونه وموندل. دی حقایقو زموږ ذهنونه بدل کړل ، او موږ خپله بې باوري له لاسه ورکړه او په دې لاره کې پرمخ لاړ و.

2:45
یو کال وروسته په 2019 کې موږ د 430 غواګانو لپاره 8 روبوټونه نصب کړل . دا ټول پرمختګونه یوه لاسته راوړنه وه ، او دا ډان انو شرکت لپاره د ویاړ ځای دی او دا ټولې پایلې زموږ د ټیم کارونه وو چې د ډیرو کلونو زحمت ویست.

3:05
CIALE ALTA په دې ټولو کې یو اساسي برخه اخیستونکی ده چې موږ ورسره له 2013 راهیسې ګډ کار کوو.په جینتیک کار کول ، تخنیکي مشورې او موږ ته لاربښوونه کول چیرې چې موږ لاړ شو ، موږ د 450 - 500 غواګانې د د روبوټونو په وسیله وکولی شو چې د تولید د غورې کچې ته ورسیږی.

3:30
لکه څنګه چې تاسو لیدلی شئ ، زموږ فارم ته پدې مجازی لیدنه کې ، موږ لاهم د دوامداره جوړونې په مرحله کې یو.زموږ نن ورځ زموږ هدف دا دی ،په ټولو اړخونو کې پرمختګ وکړو  چې موږ پیل کړی ، او زموږ سوداګری په چاپیریالي او اقتصادي پایښت باندې هم تمرکز وکړئ.

3:50 موږ پدې لیدنه کې ستاسو برخه اخیستنه ستاینه کوو او امید لرم چې تاسو وکولی شئ یوه نظریه ترلاسه کړئ چې څنګه موږ دلته په ارجنټاین کې د ډان انو کې شیدې تولید و.ډیره مننه!

## 2
## ډان انو - غذا او تغذیه

زما نوم موریسیو بینزاقین دی او زه وترنري ډاکټر او د تغذیه متخصص یم .زه د تغذیه او مدیریت لپاره د مشاور په توګه په لاتین امریکا کې د لبنیاتو تدریجی حلونو لپاره کار کوم.له 2014 راهیسې زه د ډیاګو سرویګني لارښووني لاندې د ډان انو ټیم کې برخه لرم. له ډیره وخت راهیسې چې موږ د سیستم لیږد باندې کار کوو او پدې وروستیو کلونو کې موږ د روبوټونو سره د فریسټال سیسټم پیل کړی دی.

0:40
د روبوټیک شیدو ورکولو سیسټم چې ډون انو غوره کړی د آزاد ترافیک سیسټم دی چیرې چې غوا د شیدو ته تګ کړی ، سټالونو کې آرام کوی ، یا د خپلې خوښې سره سم د تګ لپاره ځي. دا یو سیسټم دی چې د غوا په راحت او د غواګانو طبیعي چلند هڅولو لپاره متمرکز دی.

1:00
سلامونه ، زه د الیژنډرو روډا یم ، د ډان انو فارم خوراکه تهیه کوونکی یم. زما دنده داده د غواګانو ټولې ډلو ته خوراک ورکول دي .ښه ، دا زما لپاره خورا اسانه شو چې کله موږ د روبوټونو سره پیل کړی ، ځکه چې خواړو وخت سهار دمخه او ماسپښین وو او اوس ، دا یوازې په ورځ کې یو ځل ورکول کیږي.

1:33
پدې سیسټم کې ننګونه دا ده چې روبوټ ته غواګانې راجلب کړئ ، او دا کار د څارویو په راحتۍ ، د روبوټیک ساحې ډیزاین او همدارنګه د تغذیې له لارې ترسره کیږي.د هغه څه په ترکیب کې چې موږ یې په اخور کې ورکوو ، کوم چې د PMR یا جزوي یا مخلوط جیره بلل کیږي ، او هغه څه چې موږ په روبوټ کې ورکوو ، کوم چې یوه ځانګړې ګولۍ (پلیټ) دې چې د مخلوط جیره جزوی بشپړولو کې مرسته کوي.

2:11
د PMR اندازه او د د دانې د ګولیو مقدار چې غوا یې خوري د غواګانو د ورځنۍ تولید پراساس دی ، د شیدو جوړښت چې غواګانې یې تولیدوي.غواګانو ته په هره ځانګړی ډله کې ورته د دانې ګولۍ (پلیټ دانه ) ورکول کیږی. دلته موږ څلور ډلې لرو چې د هرې غوا اړتیاو سره سم ، موږ په روبوټ کې ډیر یا لږ څه ګولۍ د ضمیمې په توګه ورکوو.

2:39
ډان انو کې ، موږ د لوړ تولیدي وړتیا په لټه کی یو او په ورته وخت کې په روبوټ کې د ګولیو مصرف کم کړو.نن ورځ موږ په روبوټ کې نږدې 5 کیلوګرامه ګولۍ (پلیټ دانه) په ورځ کې د 2.9 څخه تر 3 شیدو ورکولو سره ورکوو چې په روباټ کې شاوخوا 1.5 څخه تر 2 پورې رد پاتی کیږی.د رد کولو سره زما مطلب دا دی کله چې غوا یو ځلی شیدې ورکړې وی ، او هغه غواړي بیا روبوټ ته لاړه شي. روبوټ یوازې هغه ته واېي چې هغه د شیدو شي ته اړتیا نلري او باید ډلې یا خونې ته بیرته راشي.

3:13
د دانې د ګولیو 60 سلنه واښه ، ډیری د جوار سایلج دی چې ځینې وخت د غنمو سایلج لري ، دا د جوار سایلج یا BM لري په عمومي ډول د پروټین غلظت ، انرژي او معدني مالګو بشپړونکي سره وی.موږ غواړو سیستم د جوار سایلیج پر اساس ساده کړو خو د نباتاتو تناوب دوران کې د جوار سایلج سره ضمیمه شوي غنم یا شورګم هم ورکړو.

3:56
دا د کال په اوږدو کې په سیستماتیک ډول د حاصل د راټولو یوه اسانه لار ده ، تل د دې په لټه کې یو چې د محصول کیفیت څنګه دی ترڅو د لوړې کچې تغذیه کولو سره د شیدو لوړ تولید تر لاسه کړو څکه د ساحې لوړ او کفیتی حاصل د شیدو د لوړ تولید پوری تړلی دی. موږ ډان انو کې د څارویو هرې ډلې ته ځانګړی خواړه ورکوو ، له هغه وخته چې دوی لنګۍ شی تر هغه وخته چې دوی بیا زیږون وکړی.

4:20
د شیدو ورکولو په دوران کې موږ څلور ډلې لرو چې هغه ډله دوه روبوټونه لری. هغه غواګانې چې د لنګون لومړی ځل یې وی یوه ډله کې وی بله چې د شیدو ورکولو په شرایطو کې منځمهاله او دوه نورې ډلې د بالغه غواګانو دي.

4:35
وروسته غوا وچیږی او وچه موده لري، وچه موده تر هغې پوری چې زیږون ته یې 21 ورځې پاتې وی دوام کوي.له زیږون وروسته ، غوا د روزنې ډلې خونې ته ځي چیرې چې روبوټ شتون لری ځینې غواګانې دمخه د پروسې په اړه پوهیږي ، او د نورو لپاره موږ باید دوی د سیستم پیژندلو لپاره وروزو.

4:57
یوځل چې دوی د ځانګړو اړتیاو سره مطابقت وکړی لکه د لیدنو شمیر ، رد کول ، او په روبوټ کې د ګولیو خوړل دوی ګلې ته د تګ لپاره په اصلي کې چمتو شی. د جیرې د پلان مطابق ،مخکی له دی چې اعظمی تولید ته ورسیږی دوی ته لږ یا ډیره دانه ورکول کیږی یا هم دوی وچ شی. د هرې غوا لپاره د ګولی (پلیټ دانه) مقدار د 2.5 کلیو څخه تر 9 کیلو پورې وی چې لوړه کچه په اعظمی تولید کی ورکول کیږی.

5.33
د شیدو اعظمی تولید حالت کی ، دوهم او دریم ځلی لنګې غواګانې اوس مهال شاوخوا 55 لیتره شیدی ورکوی، چې د دودیزو سیستم څخه روبوټیک لوشلو سیستم ته لیږ دي. د لومړي ځلې خوسي اعظمی تولید شاوخوا 40 لیتره دی.

5:49
دلته په ډون انو کې ډیزاین شوی سیستم د غوا ترټولو ممکنه آرامۍ غواړي او په حقیقت کې د غواګانو تولید دا ثابتوي چې د دوی تکثیر هم دا ښيې.پدې سیستم کې موږ د خوراک اتوماتیک ټیله کوونکی هم لرو ، نو غوا په دوامداره توګه جیری ته منظم لاسرسی لري.همدارنګه ، د غاړی د ټاګونو له لارې موږ کولی شو د شخوند وخت او خوړو وخت څارنه وکړو.

6:22
د خوړولو وخت او د شخوند وخت دواړه ځانګړی تګلاری دی چې د غواګانو د روزنې په پروسه کې له موږ سره مرسته کوی. د روزنې پروسه کې د شخوند ول د شیدو په ټول دوران کې اړین دی او دا موږ سره مرسته کوی چې څه وخت غوا ته خوراک ورکړو، له خوراک سره په غوا باندی څه وشو، مدیریتی او چاپیریالی تصمیمونه پری هم نیولی شو. په حقیقت کې ټول تمرکز په غوا باندې دی. ډان انو هڅه کوي چې څاروی مو راحت او څاروی مو روغ وی موږ دا کار له هغه شیبې څخه چې خوسکی زیږي تر هغه شي پورې چې غوا زموږ رمې پریږدي ترسره کوو.

7:12
او اوس ، زه د الټا له بلنې او ډالۍ څخه مننه کوم چې ماته یې اجازه راکړه چې د بریالی فارمونو مدیریت برخه اوسم. ډیره زیاته مننه

# ډان انو - د ورګو سره د  خوسکیو مدیریت

زما نوم ویلما بینټي دی، زه وترنر یم او د ډان انو تاسیساتو کې کار کوم. د ډان انو پیل د خوسکي پالنې واحدونو کې دی ، او دا هغه ځای دی چې دا ټول له دی ځایه پیل کیږي.

0:11
په زیږونتون کې کله چې نوی خوسکی وزیږد موږ یې دوه ځله نوم د آئوډین په محلول مهر پلې کوو ، نښه (ټګ) پری وهو او د کلسټروم 100 سره بډای شوي ورګه خوسکی ته ورکوئ. موږ په روبوټ کې ورګه راټولوو ، د غوا څخه ترلاسه شویو ورګو د BRIXدرجې اندازه کیږي. د دوی کچه باید 30 سلنه وی تر څو دکیفیت ترلاسه کړي.

0:35
زموږ کلیدي هدف په څرګند ډول  خوسکو ته په ممکنه غوره کیفیت ورګه ورکول دی.د غوا څخه ترلاسه شوي ورګو د کیفیت پراساس ، موږ یو اپلیکیشن لرو ، چې موږ پر حساب کوو چې د 30 BRIX ته بډایه کولو لپاره څومره او کومو ورګو ته اړتیا ده او په دی ترتیب موږ د ورګو بانک رامینځته کړی.

0:54
کله چې نوی زیږیدلی خوسی دلته راشي ، زموږ له بانک څخه  4 لیتره ورګه یې لا دمخه تغذیه کړی وی اوس  د نرسري مرحله پخپله پیل کیږي او دا مرحله تر 60 ورځو لپاره ده چې بیا دوی د خوسیو پالنې واحدونو ته ځی. هغه څه چې موږ یې هڅه کوو په اغیزمنه توګه د ورګو تغذیه ده ځکه چې دا لومړنی ګام دی  او موږ غواړو چې خوسکي روغ وساتو.

1:27
له 60 ورځو وروسته ، دوی د خوسیو پالنې واحدونو ته ځي او د پاملرنې نوي پلان ته ننوځي.په اساسی توګه په دی خونه کې هرځه  پروتوکول (تګلاره) لري، چیرې چې موږ دلته ګورو یوازې خوسی دي. نران په دودیز ډول تړلي سیسټم کې دي.

1:43
د کلسټروم 100 اضافه کولو سره موږ نه یوازې د ورګه معیاري کوو ، بلکه دا زموږ سره په موثریت کې هم مرسته کړې.د مثال په توګه موږ د اسهال  کلینیکي قضیو پیښې کمې کړې. او هغه څه چې موږ ګورو ، او تاسو یې ګوری صحي خوسکي دی. 100 سلنه صحتمند ، دا کار ددی باعث ګرځی چې راتلونکی عملیات د نورو ټولو پرمختیایی مرحلو لپاره ښه اساس شی.

2:13
ما د خوسکي پالنې واحدونو لپاره معمول رامینځته کړی چې د سهار په 6 بجو څخه د پوسټیز شیدو په تغذیه کولو پیل کیږی. دوی ته شیدی په اضافي ډول ورکول کیږي. موږ د تغذیه کولو پلان لرو چې موږ د خوسکیو د عمر سره تنظیمو و.همدارنګه ، دوی ته متوازن خوراکی رژیم ورکول کیږي. اوبه د شیدو د تغذیې څخه وروسته وړاندیز کیږي او دا ټول په اونیزه پروتوکول کې دي.

2:47
د ټولو ورځنې کارونو لپاره ، موږ دري کسان د خوسکي پالنې واحدونو د مسؤلیت لپاره لرو.موږ دوه کارمندان لرو چې د درنو کارونو مسؤل دي ، او یوه ښځنه کارکونکی لرو چې د روغتیا مسؤلیت لری او هغه زما سره کار کوي.کله چې دوی په لومړي سر کې د خوسیو  روزنې واحدونو ته لاړې شی ، موږ د هر حالت لپاره ځانګړي خوني لرو ، د شیدو څخه د بیلتون مینځمهاله مرحله او بیا د عمر په اساس اونېزه خوراکی پلان بدلون مومي.تل  مو هدف د وزن ترلاسه کولو اود  صحتمنده خوسیو لرلو وی.پدي حالت کې ، موږ یوازې خوسی ساتو - نارینه بل ځای کې د چاغولو پروسه  کې وي.

## 3
## ډان انو - د ورګو سره د خوسکیو مدیریت

3:35
ډیری پروتوکولونه (فعالیتونه) د DairyComp پر بنسټ دی.د لیست په کارولو سره چې سیسټم یې موږ ته راکوي ، موږ د لنګون څخه یوه اونۍ دمخه راوړو او بیا واکسین ورکوو.

3:46
د زیږنتون د سبمالښت ټیم د خوسکي پالنې واحدونو مسؤلیت هم لری.دوی د زیږنتون ساحه په ورځ کې څو ځله ګوري ، هدف یې دا وی چې که چیرې یوه غوا لنګیږی یا د لنګون کومه نښه پکې وی وځاری، دوی په هر 40 دقیقو کې یو ځل څارنه کوی.همدا کارکونکی د زیږون د پاملرنې خونې ، د خوسکي پالنې واحدونو او د خوسیو پالنې واحدونو لپاره مسؤل دي.

4:14
زموږ د خوسکي پالنې واحدونو کې د مړيني کچه 3سلنه د شیدو د بیلتون پوری او 4 سلنه د زیږون څخه دمخه وی. همدا ځیر، موږ تل په دی لټه کې یو چې په همدی مرحله په ورځنې توګه 900 ګرامه وزن له خوسیو واخلو.موږ تل په دی هڅه کې یو چې پرمختګ وکړو او دا پرمختګ په راتلونکو پړاونو مثبته اغیزه او پایله ولری.

4:45
همدارنګه ، ویلما موږ ته ثابته کړه چې دا په ډان انو کې د تولیدی سیستم یو اساس دی چې موږ سره په وده او موثریت کې مرسته کوي. په حقیقت دوی په فعالیتونو کې د کلستروم 100 ورګه خورا په زړه پورې کار کوي.

5:11
همدارنګه ، موږ تر ټولو لومړی وو چې په ارجنټاین کې مو د کلستروم 100 ورګه د غواګانو ورګو د بډایا کولو لپاره کار کړی دی.موږ د ټولو ورګو کیفیت د کلستروم100 وروګو د کیفیت په اساس BRIX 30 ته معیاري کوو. په دی کار سره د خوسیکو پالنې واحدونو کې ټولو خوسکیو ته په لوړ کیفیت ورګه ورکوو. دا ټول کارونه موږ ته اجازه راکوي تر څو ورګو مو ترټولو لوړ کیفیت سره غنی شي ، کوم چې په راتلونکی کی د چاپیریال ځینی میکروبونو په مقابل ټولې غواګانې اغیزمنه دفاع ته چمتو کوي

5:36
په حقیقت کې ، ویلما موږ ته وښودله چې څنګه کلینیکي پیښې راټیټې شوې او د دې لاریې ، خوسکیو د وزن اخیستو خورا اغیزمن فعالیت ترلاسه کړ ، چې 900 ګرامه ته رسي.

5:53 بډای کول خورا په زړه پوري دي.

5:55 دلته موږ د ورګو بډای کولو او معیاري کولو ځواک ګورو کله چې موږ په رمه کې ضعیف کیفیت لرونکې ورګه ، یا اوسط کیفیت ولرو بیا موږ کلستروم 100 ور اضافه کو .نو زموږ تجربه د ښه معلوماتو او ارقامو سره زړه پوري وه ، د لوړې سیالۍ شمیرې او خورا موثریت مو درلود.

6:13 زه تاسو ته بلنه درکوم چې د نورو سټیشنو په لیدو همدی سفر ته ادامه ورکړئ

# 4
# ډان انو - د غوا د بیازېږوني مدیریت

سلامونه ، زه سیباستیان ویرش یم ، د الټا جینیټکس د پلور او تخنیکي ډلې غړی وترنری غړی یم.زه د ډون انو سره حسابونه اداره کوم او د دوی جینټیکی پلان جوړولو او ساتلو لپاره مسؤل یم. ما د تکثیر مدیریت برنامې جوړولو کې هم کار کړی.

0:30

د ډون انو سره د الټا تاریخ 8 کاله مخکې هله پیل شوه چې کله ما د لومړي ځل لپاره د فارم مدیر ډیګو سره ولیدل.په اوس وخت کې فارم له پخوا څخه ډیر مختلف ښکاری پخوا موږ پالنه د څړ ځای د سیستم په اساس کوله چې نسلګیری مو هم فصلیږه وه او هغه وخت مو 200 غواګانو څخه لږ شیدی ورکولی.په هغه وخت کې ، ډیاګو ته روښانه وه چې هغه غواړي په فارم کې نوي ټیکنالوژي معرفي کړي ترڅو په هر هکتار ځمکې کې او په یوه غوا تولید زیات کړي.

1:10

د ارجنټاین پدې ساحه کې ، د لبنیاتو فارمونه د نورو کرهنیز پرمختګ سره سیالي کوي ، او د ګټې بدلولو لپاره موثریت اړین دی.پدی فکر سره ، موږ لومړی جنیټیکی پلان 7 کاله دمخه پلی کړ ، په تولید او روغتیا باندې د 60/40 ټینګار وکړ.په هغه وخت کې په فارم کې د نوي زیلاند هیواد هولستین جینیټک څخه پیل شوي وو.

1:55

د وخت په تیریدو سره موږ د شیانو د بدلون لیدل پیل کړل. د تولید په ځانګړتیاو باندې د ټینګار سره ، موږ وتوانیدو چې ډیر ژر د ټیټ تولید جینتیک له مینځه یوسو.د مدیریت په اړخ کې ، موږ غواګانې له څرځای څخه فارمونو ته راوستی او د TMR (جیره) خوراک مو پیل کړ او په ورځ کې مو درې ځله شیدې لوشل پیل کړل.

2:32

یو څو کاله وروسته زموږ د لومړني جنیټیکی پلان او برنامه په ښه توګه رامینځته شوه ، موږ د روبوټیک شیدو سیستم په لور مو هدف پیل کړ چې تاسو یې نن ورځ ګورئ. پدې وخت کې ، موږ جینیټیکی پلان ته تغیر ورکړ ترڅو 70 سلنه ټینګار په تولید او 30 سلنه ټینګار پر روغتیایی ځانګړتیاو باندې تمرکز کړو. موږ له الټا د غوره غویانو څخه کار اخلو لکه AltaAGOTADO, AltaGOPRO, AltaDDINSE ، او AltaNERVE . سږکال موږ به د AltaSTEALTH او AltaSHAZAM معرفي کړو.

3:14

د بیازېږوني مدیریت پلان چې موږ ډیزاین کړی د Nedap ټیکنالوژۍ سره فعالیتونه د غاړې له ټګونو سره نظارت کوو او موږ په دی خوښمن یو. غواګانې 24 ساعته 7 ورځې څارل کیږي ، له لنګون څخه وروسته په لومړی ځل القاح په ټاکل شوی وخت Fixed Insemination باندی ترسره کوو، ، دویم ځل غویمتوب د نښو او د سیستم د خبر په اساس تر سره کوو.

3:51

پخوا به مو غویمه غواګانی د فعالیتونو د نظارت پراساس پیژندې او ورسره مو به هغه غواګانو کې د غویمه توب نښې پکی نه ښکاریدی نو په ټاکل شوي وخت مصنوعی القاح (Fixed Insemination) مو کاروله ، په هرصورت ، موږ وموندله چې موږ ټاکل شوي وخت مصنوعی القاح کول ګټور و، د ټاکل شوی وخت مصنوعی القاح کول د لګنون څخه د 50 ورځو ترمنځ د غویمه شوی غواګانو له القاح کولو څخه بهتره وو ، نو موږ له لنګون څخه وروسته په لومړی ځل د القاح کولو ټګلاره 100 سلنه ټاکل په شوي وخت مصنوعی القاح ته واړله او غوره پایلې مو تری ترلاسه کړې ، چې په لومړی کال باندی زموږ خوسیو کې د بلاربښت کچه د 52-53 سلنه او په بالغو غواګانو کې د 40-45 سلنه د بلاربوالی کچه پورته شوه.

4:37
په ټولیزه توګه د بلاربښت کلنۍ کچه 30 سلنه ده ، په لومړۍ ځلې خوسیو کې 34 سلنه ده او په بالغو غواګانو کې د 24-25 سلنو تر منځ ده .

4:58
ماسپخین په خیر ، زما نوم جوز مارټین ویلینټینو دی او زه د 27 کلونو راهیسې په ډون انو کې کار کوم.ما د دوی سره د خوسکیانو چاغولو په عملیاتو پیل وکړ او بیا د شیدو فارم ته لاړم. کله چې ما لومړی پیل کړ ، هغه وخت کې د شیدو 6 واحدونه شتون درلود ، بیا 8 واحدونه ، او بیا د وخت په تیریدو سره موږ د شیدو واحدونو 12 اتوماتیک ټیپونه اضافه کړل.

5:28
کله چې ما لومړی پیل وکړ ، زه د هر څه مسؤل وم ، د خوسکي پاملرنې څخه نیولی ، نسل اخستنې تر د څړ ځایونو اداره کولو پورې. وروسته چې موږ محدود سیستم ته لاړو ، موږ کار په مختلف ډول اداره کولو پیل کړ.پرسونل یوازې د خوسیکو د پاملرنې لپاره ګمارل شوي و. زه د تولید او روغتیا مدیریت لپاره مسؤل وم ، کوم چې زه اوس هم نظارت کوم ، همدا ډیر د شیدو خونې هم څارم. کله چې ما دلته د ډان انو کې د بیا زیږوڼي مدیریت پیل کړه ، موږ د غویمه غواګانو د پیژندلو لپاره له تباشیر سیستم څخه کار اخیست. وروسته د ویلما په نوم یو وترنر دلته کار پیل کړ او موږ په ځینو نوي نظرونو کار پیل کړ. د فعالیتو نظارت کونکي الات وپیرودل شو ، او موږ ورو ورو د دم چاک (تباشیر سیستم) کارول بند کړل.

6:39
نن ورځ ، دا زما معمول دی: موږ د سهار په 6 یا 7 بجو فارم ته راځو او لومړی کار دا وی چې کومه غوا القاح کړو ورتپسی بیا موږ د خوسیو روزنې واحد ته ځو.له دی وروسته ، موږ د فعالیتونو نظارت کولو سیسټم څخه راغلی معلوماتو ته بیاکتنه کوو ، په دی کې غواګانې ممکنه ماسټایټس او غویمه وی. بیا موږ هغه غواګانې چیک کوو چې د سیسټم لخوا ترتیب شوي وی. موږ هڅه نه کوو چې د لاسوهنې په غواګانې تنظیم کړو بلکې په سیسټم تکیه کړو.

7:27
د مختلف سیسټمونو چلولو څخه ، زما د تجربه په اساس اوس وخت کې د ژوند کیفیت غوره دی. ما به په فارم کې د ورځې د 10-12 ساعتونه تیرول او خپلې ې کورنۍ ته مې وخت نه درلود.اوس د روبوټیک شیدو لوشلو سیسټم سره ، د شیدو تولیدونکو دندو بدلون کړی. پخوا کار او څار معمول و مګر اوسی د ژوندون له پخوا توپیر کړی دی او دا لوی ارزښت لری.

8:16
زه د هر هغه چا څخه مننه کوم څوک چې د دې مجازی سفر له لارې فارم څخه لیدنه کوی ترڅو وګورو چې موږ څه کار کړی!

# ډان انو - د خوسیو بیازیروني مدیریت

سلامونه ، د خوسیو د بیازیروني مدیریت ساحې ته ښه راغلاست . دا پروسه په هره اونۍ کې د نوي خوسۍ د راننوتلو سره پیل کیږي. ددې لپاره چې نوموړې خوسۍ د القاح کیدو ډلې (ګروپ) ته ننوځي ، دوی باید له 400 کیلوګرام څخه ډیر وزن ولري (882 پونډه) او لږترلږه 13 میاشتې عمر ولري.مخکې زموږ لپاره د قد لوړوالي اندازه کول هم کارو ، مګر موږ وموندله چې زموږ ډیرې لرې خوسۍ درلودلې چې 13 میاشتنۍ وی چې زموږ د اړتیا وړ لوړوالي څخه ښکتې وی چې موږ یې اندازه کول بند کړل.

0:34
موږ دا مهال لومړي سر کې درې څلو مصنوعی القاح ګانو کې ښځینه سپرمونه کاروو او بیا دوه ځله نور د دودیز ساده القاح کار و. زموږ هدف د دې ګروپ څخه د ٪40 بلاربښت دی ، کوم چې موږ دا مهال لاسته راوړو.

0:55
موږ د خوسیو د رارسیدو په وخت کې پروستاګالینین ترزیق کوو او هره اونۍ د لکۍ د غویمتوب د نښو لپاره څارو.موږ د AM / PMقانون (تکلاره )کار و ، چیرې چې خوسۍ چې په ماښام کې غویمه وپیژندل شی په راتلونکي سهار یې القاح کوو او هغه خوسۍ چې د ماسپښین څخه دمخه یې غویمه توب پیژندل شوی نه وی خو لکۍ راتلونکي سهار یې تباشیر ګډوډ وی، نو په راتلونکی ماسپخین کې یې القاح کوو.دا هغه مهال ویش دی کله چې موږ لومړی 3 ځلی القاح وی له ښځینه سپرمونو تر سره کوو.په څلورم او پنځم ځل القاح کې ، موږ یوازې په سهار کې په ساده سپرمونه نسلګیری کوو ، د خوسیو دواړه هغه ډلې چې تیر ماسپخین او په همدی سهار کې غویمه لیدل شوي وی القاح کوو.

1:54
د دې تولید مثل مدیریت سیستم کارولو سره ، موږ د 75-80 سلنه خوسۍ د ښځینه سپرمونو سره بلاربې لرو. دا فارم د روبوټیک سیستم له امله پکې اوس د خشره کولو شدت 38 سلنه دی. هغه غواګانې چې په سیستم کې ښه تطبیق نه کوي او نه ښه تولید ترسره کوي ، له همدې امله ده چې زموږ د خشره کولو کچه خورا لوړه ده.

2:28
زموږ د مړینې کچه له ٪6 څخه کمه ده ځکه چې موږ په ټاکنه کې دقیق یو ،د ښځینه سپرمونو کارول او د ښه نسل اخستنې عالي پایلې دا معنی لري چې موږ اضافه خوسۍ ولرو.موږ په دې اړه بحث کړی چې ایا دښځینه سپرمونو کارولو ته دوام ورکوو که نه ؟ ځکه چې موږ د خوسیو اضافي کولو د اضافي مصرف معنی لري ، مګر د بازار د نرخ په پرتله د خوسیو اوسنی ارزښت پدې معنی دی چې د نارینه په پرتله خوسۍ خرڅول ډیر ګټور دي.

3:11
موږ د جینومیک ازموینې په کارولو سره د فارم ټولې خوسۍ جیوټایپ کولو لپاره پیل کړی ترڅو په راتلونکی نسل ټاکنه کې غوره ټاکنه وکړو کوم، په دی کار سره موږ پوهیږو چې کومې خوسۍ زموږ سیستم کې ښه توافق ترسره کولو احتمال لري او کومې خوسۍ باید د پلور لپاره وړاندیز شي.

3:35
زموږ جنټیکی شاخص کې تولیدې برخه 70 سلنه ځانګړتیاوی او 30 سلنه روغتیایی ځانګړتیاو سره مخې ته ځوت او د کار موږ د ALTA GPS سافټویر په کارولو سره ترسره کوو چې پکې د پلار او نیکه پر اساس درجه بندي ټاکو او معلومه کړو چې کومې ښځینه غوره ده.

3:58

په هرصورت ، مورږ اوس په داسې مرحله کې یو چېرته چې مورږ د هغه معلوماتو په اړه چې مورږ یې تحلیل کوو حتی ډېر باور غواړو او له همدې امله مورږ د خپل ټاکنه په جینومیک پر مخ وړو.په اوسط ډول زمورږ فارم کې د لومړی لنګون عمر 23 میاشتې دي ، 90٪ خوسۍ د 22 او 24 میاشتو ترمینځ لنګیږي. مورږ ځینې لرو چې په 21 میاشتو عمر کې زیږون کوی مګر هیڅ یو یې له 25 مایشتو عمر څخه وروسته زیږون نه کوی او که وی نو هغه زمورږ دنسل ورکولو په برنامه کې پاتې کیدو لپاره نه ټاکل کیږي.

4:35

نو ، دا هغه لاره ده چې مورږ د خوسیو د بیازیږیدنې مدیریت کوو. ستاسو د پاملرنې څخه مننه او زه تمه کوم چې تاسو د پاتې سفر څخه خوند واخلئ!

## ډان انو - شيدې لوشل

دلته موږ د روبوټیک شیدو سټیشن کې یو او زه تاسو ته ښایم چې څنګه له دودیزې شیدو لوشنې څخه روبوټیک سیسټم ته لیږد وکړ.

0:08
په 2017 کې موږ د غواګانو کور بشپړ کړ او کله چې موږ پای ته ورسیدو ، موږ پوهیدلو چې موږ د شیدو لوشنی خونې ته اړتیا لرو. موږ له 1985 راهیسې د شیدو لوشنې 12 پخوانیو واحدونو څخه ګټه اخلو ، کوم چې دمخه استعمال شوی او په عملي ډول متناسب دی .موږ پلان درلود چې د شیدو لوشنې خونه چې 24 فرده غواوی په یو وخت ولوشی او د ګړندي وتل سیسټم ولری، پری موږ فکر کوو . موږ په نورو هیوادونو کې د روبوټیک سیسټمونو ته متوجه شو او غوښتل مو ارجنټاین ته دا مخکښه ټیکنالوژي راوړو. موږ ددی بودیجه تمویل کړه او د روبوټیک سیسټم نصبولو توان مو درلود.

1:09
موږ په 2019 کې دسیسټم په کارولو پیل وکړ او موږ لاهم یې ګټې ګورو. موږ ښه ارامه غواګانې لرو چې د شیدو تولید یې زیات شوی او د شیدو کیفیت یې هم غوره شوی، کوم چې د خواړو د غوره بدلون لامل شوی.

1:40
د روبوټک سیسټم دور لومړی د بازو د پاکولو سره پیل کیږي ، کوم چې په ورځ کې درې ځله د اوبو او صابون سره ضد عفونی کیږي ، لومړی د شپې په شفټ کې ، بیا په سهار او ماسپخین کې وی. موږ تل دا معمول تعقیبوو چې ربوټ ضد عفونی شی او د شیدو لوشنی دواړه خواوی هم ضد عفونی شی. موږ 4 سټیشنونه لرو او د هر سټیشن لپاره 2 روبوټونه لرو چې ضد عفونی شوي.

2:13
موږ لومړی سر کې نوي خوسی راوړو کومې چې تازه لنګې شوي او دوی په ځانکړی خونه کې بندی کړي ترڅو دوی د شیدو لوشنی لپاره لومړیتوب ته ورسوي. بیا موږ د روبوټ لیست ګورو او د هغه غواګانې چې ناوخته راځې په نښه کوو.

2:41
د بستر او د سړکونو پاکولو وروسته، موږ هغه غواګانې ګورو چې د روبوټونو لیدو ته ناوخته وې. موږ دغه غواګانې بندې کوو او هغوی ساتو تر څو د راتلونکي شیدو لپاره ورته لومړیتوب ورکړو.

3:19
کله چې په سټیشن کې پاکول او بیاکتنې پای ته ورسیږی ، موږ بل سټیشن ته ځو. موږ دا په ورځ کې 3 ځله په 3 وختونو کې تکرار و.دلته 3 مختلف مینځونکی تیزاب ، قلوی او مالګین شتون لري، روبوټونه په ورځ کې دوه ځله پاکیږی ، یو ځل په سهار او یو ځل په شپه کې وی.

3:46
د روبوټونو او د فعالیتونو نظارت کونکو ترکیب موږ سره مرسته کړې ترڅو د لبنیاتو د فارم ټول اړخونه وده وکړی او قوي شي. موږ د ماسټایټس تخشیص او درملنه کوو او په ورځني عملیاتو کې مو د ناروغۍ او مړینې پېښې کمې کړي.

4:13
دا يو خپلواکه جريان لرونکی روبوټيک سيستم دی ، غواګانې په خپله خوښه روبوټ ته داخليږي ترڅو شيدې يې ولوشل شی. په هر صورت موږ لاهم کارمندانو ته اړتيا لرو چې ليستونه چيک کړئ ځکه چې تل يوه غوا شتون لري چې ربوټ ته نه راځي ، چې لامل يې ناروغۍ يا د روزنې نشتوالي له امله وی.خوسۍ په ځانګړي ډول وخت او روزنې ته اړتيا لري، مخکې له دې چې دوی راحتې احساس وکړی او په خپله خوښه ننوځي.

4:49
هره ورځ په اوسط ډول غوا 2.8 ځلی لوشل کيږی، د لوشنی تعداد په هغه خوسيو کې چې بلده وی او روزنه يې ترلاسه کړی وی ډير وی خو په بالغه غواګانو کې بيا ټيټه وی ځکه چې روبوټونه غواګانو ته لږ خوراکه ورکوي، او دوی دومره شيدی نه کوي.

5:18
موږ 4 کارکوونکی لرو چې په منظم ډول د دواړو د شيدو توليد او بيازيږونې لپاره ليستونه ګوری او دا مشخص کوو چې غوا ولې روبوټ ته نه راځي. دوی بيا کولی شي چې د اړتيا په صورت که هغه روباټ ته اړ کړي يا د کومې ناروغۍ لپاره د هغې درملنه وکړي.کارکوونکی د د تازه لنګونو شويو خوسيو روزنې مسؤليت په غاړه لري تر څو د لومړي 2 يا 3 ورځو لپاره خوسۍ سره مرسته وکړی چې روبوټ ته لاره پيدا کړی.دا کار تر هغه کيږی چې دوی ورسره عادی او زده يې کړي.

6:01
زه اميد لرم چې تاسو د دې سفر څخه خوند واخلئ، ډون انو فخر کوي چې ستاسی کوربه توب کوی. ستاسو د وخت څخه مننه ، که چيری تاسی سره کومه پوښتنه پيدا شوی وی نو موږ ستاسی پوښتنه ته اماده يو چې په ژوندی بڼه خپرونه کې يې تاسی ته درکړو. په درنښت